PROPERTY OF ACKU

اراده DAILY

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۹۳۷

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۳۷ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۰٤ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لیندۍ ۲۲ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق محرم الحرام ۷ مه ۲۰۱۰ د ډسمبر ۱۳ مه

شش سرباز خارجی در جنوب کشور کشته شدند

نیروهای آیساف، در افغانستان از کشته شدن شش سرباز خود در جنوب افغانستان خبر داده است.

مرکز قوماندانی نیروهای آیساف در کابل با صدور اعلامیه یی گفته است که این سربازان در جریان حملهٔ طالبان در جنوب افغانستان کشته شدند.

آیساف محل دقیق این حادثه و همچنین ملیت و هویت این سربازان را مشخص نکرده است.

سال جاری میلادی خونین ترین سال برای نیروهای بین المللی در افغانستان از زمان حضور ص۴

د افغانستان لپاره د امریکا نوې ستراتیژي، بریاوې او ماتې!



اراده - کابل، تمه کېږي، چې په څو راتلونکو ورځو کې د امریکا د امنیتي او ملکي چارواکو له خوا د افغانستان پر ستراتیژۍ باندې بیا کتنه پای ته ورسېږي. دغه ستراتېژي چې د تېر کال په پای کې د افغانستان لپاره تجویز شوه، مهم ټکی یې افغانستان ته د نورو ځواکونو لېږل او د پاکستان په خاوره کې د طالبانو پر اډو باندې د بریدونو زیاتول وو. هغه مهال، ځینې امریکایي شنونکو او چارواکو دا د افغانستان د جګړې لپاره تر ټولو اغېزمنه او کاري ستراتیژۍ بللې وه، چې دغه ستراتیژي به په سیمه کې د مثبتو بدلونونو لپاره لار هواره کړي، خو دمګړۍ چې د دغې ستراتیژۍ له پلیتابه څخه نژدې یو کال پوره کېږي، د افغانستان او پاکستان وضعیت نه یوازې هماغسې خوړین او ټکنی بر ېښي، بلکې وضعیت لا پسې خراب شوی، په سیمه کې پر امریکایي او ناټو ځواکونو باندې بریدونه زیات شوي، د تېر کال په پرتله د بهر نیو ځواکونو په مرګ ژوبلو کې نژدې ۳۵ سلنه زیاتوالی راغلی، لکه څرنګه د تېر میلادي کال په بهیر کې په افغانستان د ناټو د ټولو وژل شویو سرتېرو شمېر ۵۲۰ تنو رسېده، خو دا شمېره سر کال نژدې ۷۰۰ تنو نژدې شوې. همدا راز وسلوال مخالفین هم د تېرو کلونو په پرتله ډېر پیاوړي شوي، شمال اوس د دوی پر دویم مرکز بدل شوی، اداري فساد لا هماغسې داوج پورې ونه وهي، د سالمې اداري، دولت جوړوني او د قانون حاکمیت ایډیاد خوب یو انځور ګڼل کېږي، په داسې حال کې، چې امریکایي چارواکي غواړي، پر دغې ستراتیژۍ بیا له سره غور وکړي او دا معلومه کړي، چې د دغې ستراتیژۍ د بریا او ماتې مهم ټکی څه شي دي او د راتلونکي لپاره باید کومو شیانو ته لومړیتوب ورکړل شي، مور د دغه مسئله له ځینو افغان کارپوهانو، شنونکو او ژورنالیستانو سره څېړلې، چې لنډیز یې دادی: د هېواد تکړه لیکوال او شنونکي محمد یونس برهان په داسې حال کې چې د افغانستان لپاره د امریکا تېره ستراتیژي ناکامه بولي، څرګندوي: "اوباما تېر کال همدا وخت، په دسمبر کې، د افغانستان په اړه د خپلې نوې پوځي ستراتیژۍ اعلان وکړ چې عمده برخه یې دې هېواد ته د ډېرشو زرو نویو سرتېرو رالېږل وو. دا ستراتیژي هغه مهال په ډېر شد و مد باندې د بري ۳مخ

امریکا پر چا اوښتې نه وه!

وایي چې کوم سړی ډاکټر ته ورغلی و، د درملنې پرمهال ترې ډاکټر د رنځ په اړه پوښتي وو. ورغلي سړي ورته ویلي وو، ډاکټر صیب، چې ځوک راسره مخامخ شي هسې په نه خبره غوسه (قهر) راځي! درملنه یې څه ده؟ ډاکټر ورته ویلي وو، چې ته په چا اوښتی نه یې! که په چا واوښتې؛ نو بیا به دې د غوسې چاره وکړي او هېڅکله به د چا په لیدو غوسه در نه شي!

پورتنی ټوکه مې د امریکا د نوې ستراتېژۍ په اړه وکړه، چې تېره ورځ (یکشنبه) مې په تاند ویېپانه کې ولوستل، چې په کې راغلي وو: ((د نړۍ مشهورو کارپوهانو له طالبانو سره د امریکا د مخامخ خبرو غوښتنه وکړه.))

دغو کارپوهانو له جمهور رییس بارک اوباما نه غوښتنه کړې وه، چې د افغانستان په اړه دې د امریکا په روانه ستراتېژۍ کې بدلون راوستلی شي.

نوموړو کارپوهانو دا هم ویلي: یو ایتلافي حکومت چې طالبان هم په کې شامل وي باید د اوږدې مودې هدف وي.

دوی د پاکستان مېشتو وسلوالو طالبانو په اړه ویلي: «مور له تاسو غواړو چې په پاکستان کې د افغان طالبانو له مېشتو مشرانو سره د مخامخ خبرو ملاتړ او تایید وکړئ.» دوی همداراز لیکلي: «ښه دا ده چې اوس مخکې تر دې چې ناوخته شي، خبرې وکړئ، ځکه چې ښایي طالبان کال ته تر دې هم پیاوړي وي. د افغانستان حالات اوس ۳مخ

استفاده از سلاح جدید امریکا در افغانستان

اردوی امریکا آزمایش سلاح جدید فوق دقیقی را در افغانستان آغاز کرده است که ارزش هر قبضهٔ آن ۲۵ تا ۳۵ هزار دالر برآورد می‌شود.

به گزارش خبرگزاری روسی ریا نوستی، نظامیان امریکایی در حال آزمایش سلاح جدید فوق دقیق خود یعنی تفنگ ایکس‌ام۲۵ که مانند نارنجک انداز عمل می‌کند هستند.

بر اساس گزارش سایت انترنتی Military World، این سلاح که برد موثر آن در حدود ۷۰۰ متر اعلام شده است، گلوله های ۲۵ میلی‌متری شلیک می‌کند که به تراشه‌های کمپیوتری مجهز شده‌است و دوربین دورسنج لیزری تعبیه شده بر روی این تفنگ به تیرانداز کمک می‌کند که فاصلهٔ دقیق تا هدف را تعیین کند.

سیستم کمپیوتری تفنگ نیمه خودکار ایکس‌ام۲۵ اجازه می‌دهد که گلوله‌ها یا در فاصلهٔ یک سانتیمتری از هدف، یا درون هدف و یا بلافاصله بعد از آن منفجر شود. بدین ترتیب گلوله می تواند، به گلوله توپ مبدل شود که از دیوار عبور کرده و به دشمنی که پشت آن سنگر گرفته برخورد کند و یا از بدن محافظ گذشته و به هدف اصابت کند. ص۴

په شمال کې د نشه یي توکو ډلې تر طالبانو هم پیاوړې دي

په شمال کې د ملي اردو قوماندان وایي، چې په دې زون کې د وسلوالو طالبانو په پرتله له نشه یي توکو سره تړاو لرونکې وسلوالې او نورې ډلې زیاتې فعاله دي.



په مزارشریف کې د شمال زون د ۲۰۹ شاهین قول اردو قوماندان برید جنرال زلمي ویسا ورمه شپه په ایساف کمپ کې د شمال زون د دولتي امنیتي لوړ پورو چارواکو په ګډه امنیتي خبري ناسته کې وویل، چې په شمال کې د وسلوالو طالبانو شتون دومره نه دی، چې سیمه دې له ګواښ سره مخ کړي.

د شاهین قول اردو قوماندان زیاته کړه، چې په دغه زون ۳مخ

گاز ترکمنستان در مسیر افغانستان، هند و پاکستان

مهمترین موافقتنامهٔ اقتصادی که رییس جمهور کرزی، در نه سال حاکمیت خود امضا کرد، موافقتنامهٔ ساخت خط لولهٔ انتقال گاز ترکمنستان به شبه قاره بود.

این موافقتنامه که موسوم به "تاپی" (TAPI: Turkmenistan, Afghanistan, Pakistan, India) است، پریروز شنبه، ۱۱ دسامبر، در عشق‌آباد، پایتخت ترکمنستان به امضا رسید.

سه کشور آسیای جنوبی با ترکمنستان پیمان بستند تا گاز این کشور را از خاک افغانستان به هند و پاکستان انتقال بدهند. این نشست در عشق آباد، پایتخت ترکمنستان، برگزار شد و اسناد امضاء شده شامل دو بخش چارچوب اجرایی طرح احداث خط لوله و توافقنامهٔ فروش و خرید گاز صادراتی ترکمنستان می شود. برخی منابع خبری، با توصیف این طرح به عنوان "رقیب طرح خط لولهٔ انتقال گاز ایران به هند" می افزایند که طرح احداث خط لولهٔ "تاپی" از حمایت مالی بانک انکشاف آسیایی هم برخوردار است.

طبق توافقنامه یی که به امضا رسیده، خط لوله مورد نظر - موسوم به ص۲

د ټاکنو خپلواک کمیسیون کمیسیون مستقل انتخابات
Independent Election Commission of Afghanistan

د ټاکنو پر سر روانه کشاله او د راتلونکې ولسي جرګې پرخلیک

۲

د ټاکنو پر سر روانه کشاله او د راتلونکې ولسي جرګې برخلیک

میوند

ترڅ کې له یوې خوا کمیسیون د راتلونکې ولسي جرګې د کاندانو لپاره بریلیکونه وېشنه پیل کړه او له همدې سره بریالیو کاندیدانو هم د ولسي جرګې د نوې دورې پرانېستلو ته ځانونه ښه تاوده کړل او هره ورځ د نوې ولسي جرګې د پرانېستې غوښتنه کوي، خو له بلې خوا لویې څارنوالۍ هم اعلان کړی، چې دوی خپل تحقیقات بشپړ کړي او داسې اسناد او لاسوندونه یې ټرکوتو کړي، چې د ټاکنو پایلې بې اعتباره کولای شي. په دې توګه دادی اوس د کمیسیون او څارنوالۍ ترمنځ لویه لانجه راپورته شوې، څارنوالي دا پایلې بې اعتباره بولي او کمیسیون یې اعتباري او له هر ډول درغلیو پاکې بولي، خو بلاخره خبره دې ته ورسېده، چې وړمه ورځ لویې څارنوالۍ د دغو پایلو د لغوې غوښتنه وکړه. د هېواد لویې څارنوالۍ مرستیال رحمت الله نظري د لیندۍ د میاشتې پر ۲۰ نېټه د ولسي جرګې د ټاکنو په اړه د خپلو څېړنو د پای ته رسېدو خبر ورکړ او له محکمې څخه یې وغوښتل، څو وروستۍ پایلې لغوه او په ټاکنو کې د درغلیو عاملین مجازات کړي. د څارنې د څېړنو پایلې ښیي، چې د همدې حال کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرته له دې چې لویه څارنوالي خپل تحقیقات بشپړ کړي، د ولسي جرګې وروستۍ پایلې یې اعلان کړې، چې له دې سره د معترضو کاندیدانو او د لویې څارنوالۍ غږ هم راپورته شو او د کمیسیون او لویې څارنوالۍ ترمنځ لویه کشاله رامنځته شوه. څارنوالۍ یې د باطلېدو خبر ورکړ او کمیسیون یې د صحت، خو له دې سره سره بیا هم کمیسیون د څارنوالۍ څېړنو ته چندان ارزښت ورنه کړ او هماغسې خپلې خبرې ته اړم و، چې ویل یې بل هېڅ ارګان د ټاکنو په پایلو کې د لاسوهلو حق نه لري او د ټاکنو کمیسیون هر کار خپلواک دی او د دوی په وینا دوی په خپل کار کې رښتوني او صادق دي. په همدې ډوږي د میاشتې داوه ویشتمې نېټې تر لانجمنو ټاکنو وروسته، چې په اړه یې د سختو درغلیو او تقلبونو په اړه شکایتونو زور واخیست او د هېواد په مرکز او ډېرې ولایتونو کې سخت احتجاجونه او لاریونونه پیل شول، نو د ټاکنیزو شکایتونو پر کمیسیون سربېره لویې څارنوالۍ هم د دغو شکایتونو څېړلو ته ملا وتړله. دا دې لپاره چې له یوې خوا د ټاکنو په بهیر کې سختې او لویې درغلۍ شوې وې او له بلې خوا د ټاکنو د کمیسیون او ټاکنیزو چارو کمیسون په هکله هم داسې ګنګوسې راپورته شوې، چې په دغو کمیسیونونو کې هم ډېرې درغلۍ شوې او لویې څارنوالۍ ادعا وکړه، چې دوی داسې شواهد او لاسوندونه ترلاسه کړي، چې ان د ټاکنو پایلې باطلولای هم شي او په همدې موخه یې خپلو تحقیقاتو ته ادامه ورکړه. خو په همدې حال کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرته له دې چې لویه څارنوالي خپل تحقیقات بشپړ کړي، د ولسي جرګې وروستۍ پایلې یې اعلان کړې، چې له دې سره د معترضو کاندیدانو او د لویې څارنوالۍ غږ هم راپورته شو او د کمیسیون او لویې څارنوالۍ ترمنځ لویه کشاله رامنځته شوه. څارنوالۍ یې د باطلېدو خبر ورکړ او کمیسیون یې د صحت، خو له دې سره سره بیا هم کمیسیون د څارنوالۍ څېړنو ته چندان ارزښت ورنه کړ او هماغسې خپلې خبرې ته اړم و، چې ویل یې بل هېڅ ارګان د ټاکنو په پایلو کې د لاسوهلو حق نه لري او د ټاکنو کمیسیون هر کار خپلواک دی او د دوی په وینا دوی په خپل کار کې رښتوني او صادق دي. په همدې ټاکنو پروسه له سرغړونو او درغلیو ډکه وه. نظري وویل، چې هغوی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون ۱۴ غړي محکمې ته معرفي کړي او د هغوی د مجازاتو غوښتنه یې کړې ده. هغه په داسې حال کې چې د دې کسانو هویت یې په ډاګه نه کړ، وویل چې دغه کسان د دې دوو کمیسیونونو له پرېکړه کوونکو کسانو څخه دي. د نظري په وینا، هغوی د ټاکنو دوسیې، چې څه باندې څلور زره پاڼې کېږي، له غږیزو او انځوریزو کسټونو او همدارنګه د پیسو اسناد، چې له شهزاده سرای څخه ترلاسه شوي، یو ځای له دې دوسیو سره اړوند د محکمې ته لېږلي دي. هغه وویل: ((د موجود و اسنادو او شواهدو له څېړنو څخه معلومه شوه، چې د ټاکنو په پروسه کې پراخې درغلۍ، بې عدالتۍ، له قانون څخه سرغړونه او رشوت ترسره شوی دی.)) د نومورې په وینا، دغو موارد و د ټاکنو د پروسې مشروعیت ته زیان رسولی دی. د نظري په وینا، د وروستیو پایلو لغوه کول په دې مانا نه دي، چې ټاکنې دې باطلې شي، بلکې دهغه په اند، د ټاکنو رایې باید له سره وشمېرل شي. نظري وویل: ((د هېواد له نافذه قوانینو سره سم، د ټاکنو د رایو بیاشمېرل باید د یوه بې پلوه کمیسیون له خوا د کاندیدانو

۳مخ

گاز ترکمنستان در مسیر افغانستان...

طرح تاپی - به طول ۱۶۸۰ کیلومتر و ظرفیت انتقال ۹۰ میلیون متر مکعب گاز در روز احداث می شود و سهم هند از این میزان، ۳۸ میلیون متر مکعب در روز خواهد بود. دو کشور دیگر واقع در مسیر خط لوله نیز، از گاز صادراتی ترکمنستان بهره مند خواهند شد. با وجود امضای این توافقنامه، کارشناسان صنعت گاز موفقیت در اجرای این طرح را به تحقق دو شرط اصلی موکول کرده اند. از یکسو، هند تاکید داشته که خرید گاز ترکمنستان تنها در صورتی به نفع این کشور خواهد بود که هزینهٔ ترانزیت آن در حداقل ممکن نگه داشته شود. از سوی دیگر، با توجه به شرایط منطقه و به خصوص وضعیت افغانستان، احداث و بهره برداری از این خط لوله مستلزم امنیت مسیر عبور آن خواهد بود.

تاپی جایگزین خط لولهٔ صلح:

به گفتهٔ کارشناسان، خط لولهٔ "تاپی" که در برابر طرح مورد نظر ایران برای احداث "خط لولهٔ صلح" و انتقال گاز طبیعی به هند و پاکستان مطرح شده، از حمایت ایالات متحده برخوردار است. سابقهٔ طرح احداث خط لولهٔ انتقال گاز ایران به پاکستان و هند دست کم به اوایل دههٔ ۱۹۹۰ باز می گردد و توافقنامهٔ مقدماتی در این زمینه در سال ۱۹۹۵ بین ایران و پاکستان امضاء شد. در طرح اولیه، قرار بود گاز طبیعی ایران از حوزهٔ گازی پارس جنوبی به شهر کراچی پاکستان انتقال یابد، اما ایران در سال های بعد، ادامهٔ خط لوله برای فروش گاز به هند را نیز، مطرح کرد و در سال ۱۹۹۹، توافقنامهٔ مقدماتی بین این دو کشور نیز، به امضاء رسید. در سال های بعد، ایران امکانات جدیدی از جمله امتداد خط لوله تا چین و اخیرا بنگلادش را هم مطرح کرده که ظاهرا هدف از آن، جلب حمایت مالی بین المللی و اطمینان بخشی در مورد امنیت عرضه در برابر تشنج در روابط برخی از کشورها بوده است. در عین حال، در برابر آغاز این طرح چند مشکل اساسی وجود داشته است. یکی از این مشکلات به اختلاف دیرین هند و پاکستان مربوط می شود؛ زیرا دولت هند نمی تواند، نسبت به امنیت و ثبات عرضهٔ گاز صادراتی ایران که بخشی از خط لولهٔ انتقال آن از خاک پاکستان می گذرد، اطمینان کامل داشته باشد. از سوی دیگر، تامین هزینهٔ هنگفت سرمایه گذاری در این خط لوله مستلزم مشارکت شرکت های بزرگ فعال در بخش انرژی و موسسات مالی بین المللی بوده که به خصوص با توجه به مسایل سیاست خارجی ایران، علاقه چندانی در این زمینه از خود نشان نداده اند. سال گذشته، دولت هند، چند ماه پس از امضای یک توافقنامهٔ هسته یی با ایالات متحده، اعلام کرد که به دلیل بهای مطالبه شده و "موضوعات امنیتی" از توافقنامهٔ طرح خط لوله صلح خارج می شود، اما اوایل سال جاری، خواستار مذاکرات مجدد در این زمینه شد. گفته می شود که امریکا، با تحت فشار قرارد ادن دولت پاکستان برای خروج از این طرح، وعده داده است که در چنین صورتی، کمک های مالی ویژه یی را در اختیار پاکستان قرار خواهد داد.

تأمین امنیت خط لوله از سوی دولت افغانستان:

قرار است خط لولهٔ تاپی گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان و هند منتقل کند. هرچند چنین به نظر می رسد که دولت افغانستان برای تامین امنیت این خط لوله برنامه های مبسوطی دارد، اما احمد سعیدی دیپلومات سابق افغانستان و کارشناس امور منطقه، با ابراز تردید می گوید که دولت افغانستان تابحال برنامهٔ مشخصی برای تامین امنیت این خط لوله ارایه نداده است. این کارشناس به اجرای این پروژه با تردید می نگرد و می افزاید: "در شرایط امروزی کشور، قرارداد امضاء می شود، ولی به اجرای این طرح من باور ندارم و افغانستان و پاکستان فعلا برای آن آماده گی ندارند". این کارشناس معتقد است، مسایل امنیتی اگر رفع نشود، مهمترین مانع برای اجرای این طرح به حساب می آید. رزاق مامون روزنامه نگار و تحلیلگر سیاسی نیز در این خصوص می گوید، احداث خط لولهٔ ترکمنستان و افغانستان و امکان عملی شدن آن در حال حاضر و یا در آینده یی نزدیک بعید است. وی خاطرنشان می کند: "شرکت های امریکایی از جمله یونیکال پس از سقوط طالبان از صحنه رفتند. در حال حاضر، با توجه به حضور امریکا در افغانستان، شرکت های امریکایی بایستی در احداث آن مشارکت داشته باشند. امریکا نیز، زمان مشخصی را برای احداث خط لوله در خاک افغانستان تعیین نکرده است. تابحال مشخص نیست که سود و سهمیهٔ شرکت های امریکایی تا چه حد خواهد بود."

مشکلات سیاسی:

به نظر رزاق مامون در مناطقی که بایستی خط لوله در افغانستان بگذرد، امنیت تامین نیست. در مسیرهایی که قراراست خط لوله کشیده شود، کاروان های تجارتی مورد حمله قرار می گیرند. وی درادامه صحبت هایش می گوید، پیش از این عدم امنیت در افغانستان چالش عمده در برابر اجرای این طرح بود، اما حالا عدم امنیت در پاکستان و حملات قبایل محلی مانع اجرای این طرح شده است. وی اضافه می کند: "حملات جدی و سازماندهی شده انجام می گیرد و این یک مسألهٔ سیاسی است. به نظر می رسد، همان بحران سیاسی که مانع می شد، خط لوله از افغانستان بگذرد، اکنون به پاکستان منتقل شده و فکر می کنم، باید یک نیرویی و شرکتی در پشت صحنهٔ این قضیه باشد". به هر صورت، اگر از این همه بگذریم، هم کارشناسان امور منطقه و هم مقام های مسوول افغانستان متفق القول اند که احداث خط لوله "تاپی" و یا "ترانس افغان" وضعیت اقتصادی افغانستان را بهبود خواهد بخشید. تحکیم صلح، ثبات و امنیت در این کشور نیز، به باور برخی از این کارشناسان با سرنوشت این خط لوله در ارتباط خواهد بود.

سرمقاله

دولت در پی تضعیف پارلمان آینده

دولت کابل در پی سبوتاژ و تضعیف پارلمان آیندهٔ کشور است؛ از اینکه در این پارلمان وزنهٔ حامیان کرزی کمرنگ است و در مقابل مخالفان جدی آقای کرزی به آن راه یافته اند؛ دولت نتایج دومین دور انتخابات پارلمانی کشور را مطابق خواست خود ندانسته و در تلاش است، تا به اصطلاح از راه های قانونی و مجراهای عدلی خواستهٔ اش را برآورده سازد.

حکومت کابل سعی دارد نتیجهٔ انتخابات را زیر سوال برده و در صورت امکان انتخابات را باطل اعلام کند و یا حداقل پارلمان آینده را تضعیف نماید؛ چنانکه ترفندها و راهکارهای چند روز اخیر لوی سارنوالی و شماری از نهادهای به نام آزاد ولی در حقیقت وابسته به دولت، که آشکارا از ابطال انتخابات گذشتهٔ پارلمانی سخن می گویند، دال بر این موضوع است.

به هر صورت، آنانی که از تقلبات گسترده در این انتخابات سخن می گویند و در این راستا در پی حساب و کتاب اند، در قدم اول، به همه واضح است که این حساب و کتاب با کسانی صورت می گیرد که به اصطلاح عامیانه نه در آسمان ستاره دارند و نه در زمین سایه و میزان جرمی شان نیز نسبت به کسانی که لوی سارنوالی حتا نمی تواند، به دراوزهٔ های دفتر آنها جلب احضار شان را بفرستد، بسیار اندک و محدود است، نه باکسانی که عاملان اصلی در این زمینه تلقی و این همه جعل و تقلب را راه اندازی و مدیریت کرده اند. به هر حال، اگر این کشاکش ها بین نهادهای درونی حکومت بر سر انتخابات گذشتهٔ پارلمانی همچنان ادامه یابد و هر کدام با استفاده از این وضعیت، در پی تامین منافع خودی باشند و منافع ملی را در نظر نگیرند، هیچ دستاوردی نه برای آنها، نه برای ملت و نه هم دولت خواهد داشت؛ زیرا این را همه می دانند که در صورت ابطال انتخابات پارلمانی گذشته که با مصرف هنگفت مالی و تلفات بی شمار جانی همراه بود و برگزاری باردیگر انتخابات پارلمانی، هیچ گونه تضمینی وجود ندارد که بازهم سخن از تقلب، جعل و بی قانونی نباشد و همچنان تهدیدهای امنیتی یی که چالش عمده در راه برگزاری انتخابات شمرده می شود، متصور نباشد.

بنابراین، به تمام طرف های درگیر این بازی ناآشیانه لازم است که بادرنظرداشت منافع علیای کشوری و بادرک سالم از شرایط حساس و نازک فعلی کشور، منافع شخصی، حزبی و گروهی را کنار گذاشته، برای منافع علیای کشور و ملی بیاندیشند، تا باشد کشور از دامنگیر شدن به یک بحران احتمالی دیگر که انفجار درونی در هستهٔ قدرت را به همراه خواهد داشت و برای آیندهٔ کشور بسیار خطرناک نیز خواهد بود، نجات یافته و کشور به مسیر درست آن در حرکت شود.

په شمال کې د نشه يي توکو ...

کې د نشه يي توکو قاچاق کې د بهر نيو هېوادونو ځينې قاچاقبران هم لاس لري، خو په دې اړه يې معلومات ورنه کړل.

د هغه په وينا، د نشه يي توکو قاچاق وړونکي، وسلوالې ډلې لري، چې په سيمه کې د خپل کار د ښه ترسره کېدو په موخه د پوليسو په مخ کې خنډونه جوړوي.

د پژواک د راپور پر بنسټ جنرال ويسا وويل، چې په دغه زون کې د طالبانو شتون تر دومره نه دی، چې سيمه‌ييز له ناامنيو سره مخ کړي.

نومورې زياته کړه، چې دغه نورې ډلې هم د طالبانو په نامه په سيمه کې فعاليت کوي او خپلې ګټې په نظر کې نيسي.

د تاکنو پر سر روانه کشاله ...

داستازو په حضور کې ترسره شي.)) د لويې څارنوالۍ او تاکنيزو بنسټونو ترمنځ ناندرۍ د تاکنو دوروستيو پايلو له اعلان وروسته، پيل شوې دي. لويې څارنوالۍ له څه مودې راهيسې، ۱۲ صرافان او د يو شمېر ودانيزو شرکتونو رييسان په تاکنو کې د درغليو په جرم بندیان کړي دي. له دې سره سره، چې لويې څارنوالۍ د دواړو تاکنيزو کمېسيونونو د ويانديوانو او دوو نورو غړيو د جلب فرمان صادر کړی دی، خو دغه کسان تراوسه د ځواب ويلو لپاره دې اداري ته نه دي حاضر شوي.

خو بل لور ته بيا کمېسيون هم په خپلو کارونو کې ځان سپين بولي او د څارنوالۍ خبرو ته هېڅ اعتبار هم نه ورکوي، په همدې لړ کې د تاکنيزو شکايتونو کمېسيون د تېر په ځېر د ووستي ځل لپاره بيا هم ځرګنده کړه، چې لويه څارنوالي د تاکنو په پايلو کې د لاسوهنې حق نه لري. د تاکنو د شکايتونو کمېسيون غړي او ويانديو ضياء رفعت د لينديۍ پر ۲۰مه، وويل، هغه شکايتونه چې د تاکنو پر پايلو يې اغيزه درلوده، د تاکنو د شکايتونو د کمېسيون له خوا، چې د دغه کار قانوني مرجع ده، ځېرل شوي دي. د رفعت په وينا، دغه کمېسيون يوازېنۍ مرجع ده، چې کولای شي د تاکنو د پايلو په اړه نظر ورکړي او پرېکړه وکړي.

رفعت وويل: ((د هېواد د لويې څارنوالۍ محترمه اداره يوازې کولای شي جرمي برخې وڅېړي.)) د نومورې په وينا، لويه څارنوالۍ د تاکنو په پايلو کې هېڅ ډول لاسوهنه نه شي کولای. رفعت دا هم وويل، هېڅ ډول شکايت چې اوسمهال د تاکنو پر پايلو اغيزه وکړي، شتون نه لري او زياته يې کړه چې په دې برخه کې ټول شکايتونه مخکې د تاکنو د شکايتونو د کمېسيون له خوا ځېرل شوي او وروستۍ پايلې اعلان شوې دي. پر دې بنسټ له يوې خوا لويه څارنوالي او له بلې خوا د تاکنيزو چارو کمېسيونونه ځانونه ګرم نه بولي او دواړه لوري د سالمو ځېړنو او صداقت ادعاوې کوي، خو معلومه نه ده چې دا کيسه او د دوی ترمنځ روانه لانجه به اخر چېرته رسېږي؟ دلته تر ټولو مهمه داده، چې که له يوې خوا د راتلونکې ولسي جرګې برخليک ناڅرګند دی، له بلې خوا بريالیو او معترضو کانديدانو هم په داسې کړنو او فعاليتونو لاس پورې کړی، چې که حالت همداسې وغځېږي، نو ښايي حالات نور هم ورسره کړکېچن شي. دلته هغه کسان چې بريالي شوي، د جرګې دژر پرانېستلو غوښتنه کوي، خو بلخوا معترضان بيا وايي، که چېرې همدا پايلې ومنل شي، نو دوی به سختو لاريونونو او نورو دولت ضد فعاليتونو ته مخه کړي او له هرې لارې چې وي، د خپل حق د ترلاسې لپاره به هڅې وکړي او ان له طالبانو سره به هم يو ځای شي. په دې ډول يو لور ته بريالي کانديدان غواړي، چې ژر خپلې څوکۍ ترګوتو کړي او جرګه ژر مشروعيت او رسميت ترلاسه کړي او بل لور ته ناکامو او معترضو کانديدانو په تاکنو کې د لويې کچې درغليو له املې خپلو احتجاجونو او د خپل حق ترلاسه کولو ته زور ورکړی. نو اوس که چېرې د دغو تاکنو پايلې لغوه شي، نو بريالي کانديدان او رومرو سخت مخالفتونه ښکاره کوي او ښايي لويو لويو مخالفتونو ته هم لاس واچوي، او که ومنل شي، نو د معترضانو، لويې څارنوالۍ او ان د ولس مخالفت به هم زور واخلي، په دې توګه په دواړو حالتونو کې د سختو مخالفتونو او وېرې اچونې شونتيا شته. نو د دې لپاره چې تر هغو دا روانه کشاله سر ته نه وي رسېدلې، بايد نوې ولسي جرګه وځنډول شي او کله چې کشاله پای ته ورسېده، وروسته دې پرانېستل شي او که د کشالې تر پای ته رسېدو مخکې نوې ولسي جرګه پرانېستل شي، قانوني مشرعيت او رسميت ترلاسه کوي او د روانې کشالې په موجوديت کې وضعيت نور هم د خرابوالي او خړپړتيا پلوی تلای شي.

امريکا پر چا اوښتې ...

تر تېر کال ډېر خراب دي، ځکه چې د طالبانو بلوا د افغانستان ډېرو برخو ته غځېدلې ده.»

بله يادونه يې داده: «دې ته په پام سره چې طالبان د افغانستان په شمال او لوېديځ کې جدي حضور لري اوس په يوه ملي غورځنګ بدل شوي.» دغو کارپوهانو د کندهار او هلمند عمليات هم چندان بريالي نه دي بللي او ويلي يې دي چې پراخ پوځي عمليات د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او د خلکو د شتمنيو د ورانېدو سبب کېږي. د کارپوهانو په ليک کې ويل شوي: «د پوځي عملياتو د تاوتريخوالي له کبله، مور د کليوالو پښتنو د زړونو د خپلولو مبارزه بايلو چې دا پر جګړې مستقيم اغېز لري.»

دوی پوځي عمليات د افغانستان د ناروغۍ درمل نه دي بللي او د جګړې په لويو انساني او مالي ضايعاتو يې اندېښنه ښکاره کړې ده.

د يادو کارپوهانو په ليک کې دا هم ويل شوي: «که موخونه وي يا نه وي، طالبان د افغانستان د سياسي صحنې برخه دي، نو مور ته پکار ده، د دې لپاره چې سياسي روغې جوړې ته ورسېږو له دوی سره خبرې وکړو. د طالبانو مشرانو هم ويلي دي چې دوی خبرو ته حاضر دي نو دا زمور په ګټه ده چې له دوی سره ورغېږو.»

يادنظرونه د امريکا جمهور رييس بارک اوباما ته په داسې مهال کې ورلېږل کېږي، چې سپينه مانۍ د افغانستان په اړه پخپلې تېرې ستراتېژۍ بيا له سره غور کوي او د بدلون وړاندوينه يې هم شوې ده.

امريکا ته خو د ۲۰۱۰ لومړي کال را په دې خوا د نړۍ مخورو کارپوهانو تر جګړې پيلولو وړاندې داسې وړاندوينې کړې وې، چې په افغانستان باندې بريد کول به په نظامي لحاظ زيانموونکی وي او بله دا چې په سياسي ډګر کې به هم امريکا په نړيواله کچه خپل حيثيت له لاسه ورکړي؛ خو امريکا له خپلې سرتمبګۍ نه کار واخيست او پر افغانستان يې بريد وکړ.

امريکا د جګړې په لومړيو کې د ټولو وسلوالو طالبانو شمېر ۱۰۰۰ تنه ښودلی و، چې د افغانستان په غرونو کې پاتې وو او له دوی سره جنګېدل؛ خو دغه شمېره ورځ تر بلې زياتېده او دغه راز د په نظامي اړخ کې بهر نيو ځواکونو ته کال تر بله د تلفاتو اوښتو کچه لوړېده او بلا خره تېره ورځ د اسوشيټيډ پريس خبري اژانس ويلي وو، چې افغانستان ته د اضافي سرتېرو له لېږلو سره سره ۲۰۱۰ کال تر ټولو خونړی کال وو او دا ځواکونه نه دي توانېدلي چې د طالبانو د حملو د شدت مخه ونيسي.

اوس خو امريکا مجبوره ده چې له وسلوالو مخالفينو سره د افغانستان د سياسي بحران د حل په موخه خبرو کولو ته مخامخ کېنې؛ ځکه چې دوی لومړی طالبان د خپل ځان پر وړاندې ډېر کمزوري او لږ ګټلي وو؛ خو دا چې په دې هېواد کې هېڅکله چا جګړه نه ده ګټلې او پايلې يرغلګرو ته د تحمل وړ نه وې؛ نو امريکا په کوم فکر دا هڅه پيل کړې وه، چې وسلوال طالبان به د نظامي جګړې له لارې ختم او يا وسلو کښودلو ته اړ باسي؟!

خو خبره همداده چې امريکا اصلاً د هغه کس په شان چې ډېره غوسه ورته لا تر دې وړاندې په چا اوښتې نه وه او اوس چې په طالبانو واوښته؛ نو فکر نه کېږي که به بيا هسې خوشې ببځايه غوسه ورشي.

وړاندیز:

رښتيا هم د افغانستان په اړه د امريکا هېڅ يوه ستراتېژي تراوسه کاميابه نه شوه او نه يې په نظامي برخه کې کومه مثبته لاسته راوړنه په برخه شوه؛ نو اوس به يوازې د روانې جګړې د مخنيوي لپاره تش د ستراتېژۍ بدلون هم هومره ګټور نه وي، ترڅو چې امريکا يا د دوی ملګري د افغانستان په اړه د خپلو ځينو موخو په اړه هم غور ونه کړي او ترې تېر نه شي، که نه نو داوړی به شړی نه شي.

ورسره دې امريکا په سيمه کې له ځينو هغو ګاونديو هېوادونو هم جدي غوښتنه وکړي، چې د يادې جګړې ډګر ته د ډلو ټپلو ورلېږلو او حمايه کولو شک پرې کېږي، که نه ترڅو چې په دې هېواد کې بهرنيان وي؛ نو ورځ به يې تر شپې او شپه به يې تر ورځ بدتره وي او خوند به ترې هغه هېوادونه اخلي چې دلته يې د بهرنيانو شتون ستر ګو ته اغزی دی. **محب الله الله يار**

د افغانستان لپاره د امريکا نوې ...

راوړونکي زېرې په توګه يادېدله او هيله دا وه چې د ولمسشمر اوباما ځير که او له ډېر غور وروسته جوړه شوې ستراتېژۍ به ملموسې او چټکې پايلې ولري. مګر د يو کال په تېر بدو سره، د سپينې مانۍ هيلې په اندېښنو واوښتې ځکه د نوې ستراتېژۍ پايلې معکوسې وختلې. د د ېرشو زرو پوځيانو د رالېږلو موخه دا وه چې امريکايي ځواکونه به د خلکو د اوسېدو په سيمو او کليو باندې ته خپل حضور غځوي تر څو هر وروستی کال يې تر رومبي بدتر واوسي. ګومان کوم د دوی د ستراتېژيو پرلپسې ناکاميو په افغانستان او په افغان حکومت کې هم د دوی د بريالیتوب او ځير کۍ په اړه شکونه راپورته کړي دي، او د باور فضا يې خړه پړه کړې ده، او کېدای شي همدې شي د کابل او واشنګټن تر منځ په وروستيو کې اړيکې خړې پړې کړې وي.

سر ببره پر دې، د دوی د هغو پلانونو پاتې راتلو چې پر همانه تبليغات ورته کوي او په پيل کې يې په اړه ډېرې خوږې خبرې کوي، د دغو پلانونو پاتې راتللو د طالبانو په وړاندې هم د دوی کمزورتيا تر بل هر وخت بر بنډه کړې ده، چې دا په خپل وار د امريکايانو د لمنې د راټولېدو او د طالبانو د واک د پراخېدو سبب کېږي." افغان ليکوال هجرت الله اختيار په داسې حال کې، چې پر دغه ستراتېژۍ بيا کتنه يوه حياتي اړتيا بولي، ځرګندوي: زه داسې فکر کوم، چې د افغانستان او پاکستان لپاره د اوباما تېرې ستراتېژۍ ډېرې نېمګړتياوې درلودې. په هغې ستراتېژۍ کې پر دوو مهمو ټکو باندې ټينګار شوی و، يو دا چې اوباما بايد خپل پوځيان په افغانستان کې زيات کړي، دويم د پاکستان په خاوره بيا په ځانګړې توګه سرحدي سيمو کې د طالبانو پر اډو د بې پيلوټو الوتکو د دوام او کوټلي کېدو مخه ونيسي. خو دغه دواړه مسئلې هغه څه دي، چې زمور د ولس لپاره، د امريکايانو او ناټو لپاره هومره چې تمه يې کېدله، ګټورې نه وې، ځکه په دې ستراتېژۍ کې بيا هم د جګړو پر دوام ټينګار شوی. دا ټولو ته جوته ده، چې په افغانستان کې امريکايانو جګړه پيل کړې، طبيعي ده، چې د جګړې د لوري تغيير او بدلون هم د هغوی په لاس کې دی، نو اوس چې پر دغه ستراتېژۍ باندې بيا کتنه کېږي، زما په نظر بايد په کې ډېره پاملرنه سياسي حل لارو، له وسلوالو مخالفينو سره د سولې پر خبرو او په واک کې هغوی ته د ونډې په ورکړه باندې وشي. دا هغه څه دي، چې په افغانستان کې د امريکا او ناټو په ماموريت ژور او مثبت بدلون رامنځ ته کولای شي او زمور، د امريکا، پاکستان او نورو هغو هېوادونو ولسونو لپاره چې په يو ډول يو ډول په افغانستان کې ښکېل دي، په خير او ګټه ده، ځکه دغه ولسونه ټول له جګړې ستړي شوي، نور نه غواړي، چې زامن يې په دې ناپايه جګړه کې وژل شي، د دې ترڅنګ بله مهمه خبره، چې په دغه بيا کتنه بايد ورته توجه وشي، هغه د افغانستان د خلکو لپاره دېو سالمې اداري په جوړولو کې مرسته او د افغانانو د زعامت لپاره د داسې کسانو انتخاب دی چې هغوی په رښتيني توګه د ولس خدمتګار، ملي شخصيتونه او پر افغان ولس يې زړه وسوځېږي، هغه ځېرې چې امريکايانو په تېرو وختونو کې وربانديې پانګونې وکړې، او پر افغانانو يې حاکمان کړل، هغوی نه يوازې، د افغانانو خدمت ونه کړ، بلکې د خپلو ناسمو کړنو له املې هېواد يې نور هم د بربادۍ او د بدرۍ کندې ته ورټيله کړل. افغان ژورنالست احمد ارشاد خطيبي بيا په دې اړه خپل نظر داسې بيانوي، داسې ښکاري، چې د امريکا ستراتېژۍ هغه مهال کولای شي، په افغانستان کې اغېزمنه واقع شي، چې له تېرو تېروتنو په کې ډډه وشي. د دغې ستراتېژۍ په بيا کتنه کې، بايد له طالب مشرانو سره پر مستقيمه خبرې اترې وشي، ځکه داسې اټکلونه شته، چې طالب مشران يوازې مستقيمو خبرو اترو ته لېوالتيا لري. بل پلو، امريکايان بايد خپل پوځي ځواک په افغانستان کې کم کړي او په بدل کې يې د افغان ملي پوځ روزنې او تجهيز ته پاملرنه وکړي. امريکا بايد د افغانستان په چارو کې له لاسوهنو لاس واخلي او زمور ملي حاکميت ته درناوی وکړي.

ښاغلی خطيبي زياتوي: له اداري فساد سره د مبارزې بر نامه ناکامه ده، امريکا بايد له هغو مفسدو ادارو خپلې مرستې بندې کړي، بلکې زمور مدني ټولنې ته ډېره پاملرنه وکړي. دی زياتوي، امريکا بايد په افغانستان له ګاونديو هېوادونو مشروع ګټې په رسميت وپېژني او د شپې له عملياتو ځخه ډډه وکړي.

یادی ازیک رادمرد آزادهٔ افغانستان

احسان الله مایار — ویرجینیا، دسمبر ۲۰۱۰ — قسمت دوم

شهید محمدموسی شفیق

در یکی از روزهای جمعهٔ اواخر حمل ۱۹۷۸ م آخرین بار در بازگشت از خانه اش در جلال آباد شخصی مرا پرسان کرد که: " د موسی خان کاموی کور چیری دی" و من راهی را که وی آمده بود، راه درست گفته و رفتم. نمی دانستم که این بازگشتم از خانهٔ موسی خان کاموی دیدار آخرین و صحبتم با وی بود.

دوسال قبل یک روز بعد از انتقال جنازه های شهید سردارمحمد داوود، سردار محمد نعیم برادرش و متباقی ۱۵ تن ازعزیزانش با چند تن از دوستان برای دعا به ارواح پاک شان رفته بودم، در میان همین قبرها ، اجساد مظلوم ترین مظلوم ها که به دست سفاکترین انسان های ، وطنفروش به شهادت رسیده بودند، انتقال داده شده بود.

از خیانت و ستمی که بالای فرزندان پاک و نجیب افغان به نام انقلاب شکوهمند مردمی صورت گرفته، فریاد می زند و دادخواهی می کند. چون دولتمردان بازخواستگر در وطن ما وجود نداشت و در زبان قال شان مهر سکوت جا گرفته، این قبرهای دهان باز وظیفهٔ دادخواهی را به عهده گرفته، تا به زبان حال عدالت بخواهد.

در بین همین زیر خاک خفته گان ابدی یکی هم محمد موسی شفیق کاموی است. مطالب پایین از زبان شخصی که جریان شهادت این رادمرد بزرگ افغان را با شش تن دیگربه پسر عمه ام در میان گذاشته، از نظر خواننده گان می گذارم.

نظر به گفتهٔ راوی، صبح وقت به ما امر شد، تا بعد از ظهر امنیت همین منطقه را بگیریم. شام همان روز، (تقریباً یک هفته بعد از تدفین دسته جمعی سردار شهید و اعضای فامیلش) دو عراده موتر والگا و یک عراده سرویس که توسط محافظان بدرقه می شد، در محل رسید و ازموتر اول آن نورمحمد نورو اسلم وطنجار و سه تن دیگر پیاده شدند. این گروه وظیفه داشتند، تا کسانی را که بعداً معرفی می شوند، محاکمه نمایند. از موتر بعدی محمد موسی شفیق و وفی الله سمیعی وزیرعدلیه (مانند موسی شفیق یک شخص با تهذیب و وطن دوست) با دست های بسته فرود آورده شدند و از موتر سرویس سید وحیدالله وزیرخارجه، جنرال عبدالله روکی، جنرال عبدالقدیرخلیق، محمدرحیم شاه آغاسی(ندیم اعلی حضرت محمدظاهر شاه) و رییس آریانا داماد جنرال رسولی وزیر دفاع (متأسفانه اسمش را در یادداشتم نیافتم، احتمال دارد، محمد رحیم باشد، اما مقامش آن قدر والاست که باید پیداشود)، دست های بسته پیاده شدند. زیر روشنی پروجکترها محاکمه را نورمحمد از محترم محمدموسی شفیق آغاز کرد و اورا متهم به فروش آب هیرمند به ایرانی ها نمود. شفیق با متانت جواب داد که من هیچگاه به وطنم خیانت نکرده ام. معاهدهٔ آب هیرمند مراحل رسمی خود را پیموده و از حضور شما که در شورا تشریف داشتید، تصویب گردیده و حضور اعلیحضرت آنرا توشیح نموده است. بعد از این گفت و شنود مختصر امر اعدام این شخصیت بزرگ افغانستان به اساس تصویب نام نهاد "محکمهٔ صحرایی" صادر شد و با آتشباری کلاشینکوف به شهادت رسید. به همین ترتیب، این گروه یک یک از ۶ تن باقیماندهٔ اشخاص وطندوست و مسلمان افغانستان را بیرحمانه به شهادت رساندند که با عجله توسط بلدوزر زیر خاک دفن شدند. روح این مردان قربانی خاک افغانستان شاد و بدون شک مکان شان بهشت برین است. فکر می کنم، این جنایت قبیح بین ۱۴-۱۶ ثور کودتای کثیف کمونیستها صورت گرفته است.

در اخیر به کسانی که خود را در قالب حکام افغان پذیرفته اند، اشاره می کنم که مردم بیگناه افغانستان مدفون در زیرخاک و یا بالای خاک بنام زنده بنام مخلوق خداوند حق خود و عدالت می خواهند. این گزارش به قلم شکستهٔ یک ناتوان درج تاریخ شد، تا بازمانده گان روزی خدا را بالای سر و اعمال خود حاضر و ناظر بینند، حق مردم را در چوکات عدالت به کرسی بنشانند.

یکی از چکامه های موسی شفیق که به عنوان ملت افغان سروده است :

کاشکي مړوی چې مې هیڅ نه وی لیدلی دا د ستا په مرګ حساب ژوندون افغانه
نه شرمیږي ټول قومونه سره یو شول ته شکېدلی تنې پروت یې پریشانه

این مقال درد و رنج را که از لابلای آن بیچاره گی ما داد می زند، یخن می گیرد و عدالت می طلبد، خاتمه می دهم و به قربانیان بیگناه افغان احترام می کنم.

پایان

شش سرباز خارجی در ...

این نیروها در در افغانستان (سال ۲۰۰۱) بوده است. در سال جاری میلادی ۶۹۲ سرباز خارجی در افغانستان کشته شده اند، در حالی که این آمار در سال ۲۰۰۹ میلادی به ۵۰۲ نفر رسیده بود. شماری از این سربازان در درگیری های مستقیم با مخالفان مسلح کشته شده اند، اما بیشتر آنها در پی انفجارهای بم های کنار جاده یی جان خود را از دست داده اند. در حال حاضر حدود ۱۵۰ هزار سرباز خارجی در افغانستان حضور دارند و مقام های امریکایی گفته اند که از نیمهٔ سال آینده میلادی روند خروج نیروهای خود از این کشور را آغاز می کنند.

هر چند برخی با این استدلال که هنوز شورشیان و گروه های مسلح مخالف دولت افغانستان فعال هستند، تعیین زمانی مشخص برای خروج این نیروها را تصمیمی درست ندانسته اند. اما اخیرا رابرت گیتس، وزیر دفاع امریکا در سفری به افغانستان گفت که وضعیت در این کشور در حدی "بهبود" یافته است که برنامهٔ خروج نظامی از آن قابل اجرا باشد.

استفاده از سلاح جدید امریکا ...

این تفنگ تولید کمپنی Heckler & Koch است. به گزارش " Military World "، ارزش تقریبی هر قبضه از این سلاح، در حدود ۲۵-۳۵ هزار دالر برآورد می‌شود. استفاده از این تفنگ در افغانستان در ماه نومبر آغاز شده است.

بر اساس این گزارش، در حال حاضر امکان تحویل ۱۲ هزار و ۵۰۰ قبضه از این تفنگ‌ها در سال ۲۰۱۴ به افغانستان بررسی می‌شود.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده چهارم : ۱- اتخاذ تدابیر ویژه موقتی توسط دول عضو که هدف آن تسریع دو فاکتور مساوات بین مردان و زنان میباشد، بنابه تعریف این کنوانسیون نباید (تبعیض) تلقی گردد. اما به هیچ وجه حفظ ستندردهای جدا و نا برابر رابه عنوان یک پی آمد در بر نخواهد داشت. این اقدامات پس از تحقق رفتار و فرصتهای برابر متوقف خواهد شد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼې پې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com